# پاکه پانه کۀ منافقه پانه؟

عبدالحلیم (مدرس ازاد سکول اتمانزئي)

د پښتون د یکم جولائي ۱۹۳۸ په پرچه کښې د جناب عبدالکریم خان صاحب هېډ ماسټر د ازاد سکول اتمانزئي یو مضمون چاپ شوے وۀ چې د هغې سرنامه ((پاکه پانه)) وه. زما دا خیال وۀ چې دا به یوه داسې پانه وي چې په هغې کښې به یا درود تاج وي یا به دعائے گنج العرش لیکلے وي. یا به زړه نور نامه وي یا لویه، لېکن جناب وروستو راته معلومه شوه چې دا د چایو پانه ده یا مظهر العجائب، زۀ د څۀ په طمع وم او رااوتل څۀ؟ په اردو کښې متل دے: کهودا پهاړ نکلا چوها.

زۀ د چایو د پاکوالي (تبرک) قائل نۀ یم. یواځې زۀ نه بلکې تمام هغه حضرات چاته چې د چایو تاریخ، کارنامې، شرارت او ظلم د ابتدا نه واخله تر نن ورځې پورې معلوم دے. په دې خبره کښې زما ملګري به وي چې د چایو پانې له هېډ ماسټر صاحب کوم عزت او درجه ورکړې ده، هغه د دې لائق او مناسب نۀ ده. تعجب خو دا دے چې هېډ ماسټر صاحب په خپله لیکي چې چائې یو داسې څیز دے چې حجره کښې دا ناسته وه، جماعت کښې دې بازار ګرم کړے وي. مړي ته دې ځان رسولې وي، ښادۍ کښې دا مشره وي، د نېکانو مجلس د دې نه خالي نۀ وي، د بدکارو فاسقانو د ډلې دا سرتاج وي. لنډه دا چې د هر دېګ ځمڅۍ ده او د دې په شان هردرے څیز به بل پېدا نۀ شي. اوس تۀ د خدائے دپاره ووایه چې یو داسې څیز چې د هغۀ ځائے ځائیګے، ناسته پاسته، طور طریقه هره شیبه، هره ګړۍ جدا جدا وي او هر ساعت ئې پالیسي بدلېږي رابدلېږي. هغۀ ته د پاکوالي خطاب ورکېدے شي؟ زما په خیال کښې چې د چایو رویې ته مونږ وګورو نو دې دپاره بهترین او موزون خطاب دا ورکېدے شي ((منافقه پانه)).

زما خو ویره پېدا شوه کۀ چرې ماسټر صاحب په خطاباتو ورکولو کښې داسې فیاض وي لکه چې د چایو په باره کښې دوي ځان وښودلو، نو بعیده نۀ ده چې هېډ ماسټر صاحب هغه کس له هم څۀ زبردست خطاب ورکړي کوم چې اول کانګرس کښې شامل شي، چې د کانګرس نه ئې لږ شان زړۀ خفه شي نو خاکسار شي او چې هغلته ئې طبیعت چپ شي نو مسلم لیګ ته راواوړي.

کۀ زما نه پوښتنه کوئ نو زۀ به درته صفا ووایم چې د چایو د پانې نه زما د تماکو پانه زیاته خوښه ده. ولې چې د شروع نه ئې چې ځان دپاره حجره خوښه کړې ده، هغه ورځ شوه او نن ورځ بل چرته ئې قدم کښې نۀ ښودو. څیز خو هغه بویه چې د هغۀ یوه لار او یوه طریقه وي. هر وخت پارټې

بدلول، هره ګړۍ بیل بیل مجلسونو کښې شاملېدل دا خو منافقي ده. دې ته څوک پاکوالے وائي؟

مونږ د هېډ ماسټر صاحب په يوه بله خبره هم ثابتولے شو چې د خطاب په ورکولو کښې هغوي غلطي کړې ده. باالفاظ دیګر هغوي خپل تردید په خپله کړے دے. هغوي فرمائي ((د چایو پیاله کۀ دې په تحصیلدار وځښوله نو د چا یتیم د شاملات انتقال په درپسې وخېژوي او کۀ د مجسټرېټ د حلقه دې تېره کړه نو مقدمه دې بې تپوسه ګټلې واخله. چایو کبر راختے دے کۀ یتیم دے کۀ یسیر کۀ مور دے او کۀ ورور دے، کۀ مسافر دے کۀ مقیم، غرض دا چې په هر چا باندې د دې قلنګ دے.))

د هېډ ماسټر صاحب د دې قول مطابق چې مونږ د چایو د مضمون باره کښې کوم عنوان یا سرنامه ایښودلے شو هغه دا دے ((د چایو ظالم حکومت.))

ماته حېرانتیا راځي چې په دې تېرو کالونو کښې د انګرېزانو حکومت هم دا قسم زیاتے او سختۍ په خلقو راختې وې کوم چې نن پرون چایو راختې دي. د هېډ ماسټر صاحب ازادي پسند طبیعت دا ظلمونه برداشت نۀ کړے شو او دوي ((ظالم حکومت برباد)) چغه ایستې د هري پور د جېلخانې د هوا اخستو دپاره آماده شو. لیکن هر کله چې دا خبره د چایو متعلق راغله نو خطاب ورکېدے شي پاکه پاته، د اردو بیت دے:

خرد کا نام جنون رکھ دیا جنون کا خرد

جو چاهے آپ کا حسن کرشمه ساز کرے

بغېر د دې نه مونږ بل څۀ خیال کولے شو چې وي کۀ نۀ وي چایو د جناب هېډ ماسټر صاحب څُلۀ خوږه کړې ده. خدائے دې امان راکړي څوک ورته چرته زړۀ ټینګولے شي. دا ډېر ظالم څیز دے.

بله خبره چې ماته په مضمون کښې قابل اعتراض ښکاري. هغه دا ده چې هېډ ماسټر صاحب دا صاف نۀ دي ښودلي چې د دوي چائې توره ده کۀ شنه، ځکه چې دا خو یو بُز اخفش( ) ته هم معلومه ده چې په دواړو پاڼو کښې ډېر فرق دے. د دواړو رنګ جدا، جثه ئې جدا، کار ئې جدا، معامله ئې جدا، لېن دېن ئې جدا، ټیم جدا، غرض هر څۀ جدا.

بس زۀ پوه شوم د هېډ ماسټر صاحب شنو چایو سره للهي بُغض دے او دې سره ئې مینه

[1] د بُز اخفش معني د اخفش چېلۍ، اخفش يو نحوي عالم وۀ، دۀ یو چېلۍ پېدا کړې وه چې کوم وخت به دۀ د نحوي مسئلې یادولې نو دا چېلۍ به ئې مخکښې ودروله او ګردان به ئې شروع کړو. هرکله چې به دۀ ګردان خلاص کړو او چېلۍ به سر وخوځولو نو دې به پوه شو چې سبق مې ګني پوخ شو او هر کله چې به دۀ سبق تېر کړو او چېلۍ به سر ونۀ خوځولو نو دۀ ته به خپل سبق کچه ښکاره شو او تر هغه به لګیا وۀ. تر څو چې به چېلۍ خپل سر له حرکت نۀ وۀ ورکړے. وائي چې هر کله دا چېلۍ مړه شوه نو پته ولګېده چې په سر کښې ئې پوټے مازغۀ موجود نۀ وو. ټول اخفش په ژوندانۀ خلاص کړي وو اوس هر هغه کم عقل ته بُز اخفش وائي د کوم په سر کښې چې مازغۀ د ضرورت نه زیات کم وي.

نشته ځکه خو دوي د دې غريبې پانې دا خبره ((من يرغبو)) کښې بوتله او په خپل خيال کښې ئې د دې هستۍ ته نقصان ورسولو. لېکن دوي ته دې معلومه وي چې چا له خدائے څۀ نا څۀ لوئي او مرتبه ورکړے وي. هغه زما د بل په خبرو هيڅ نۀ کېږي. مثلاً ډېر داسې کسان دي چې هغوي شپه ورځ بل کار نۀ کوي په تقرير او په تحرير کښې د خدائي خدمتگارانو بد وائي او سپکه ئې ليکي. کۀ د دوي په خبرو وې نو خدائي خدمتگاران به پخوا ورک وو. لېکن مونږ وينو چې د هغې برخلاف په دغه کسانو کُنځله راپرېوتې ده او هم دوي ورځ تر ورځ ورکېږي.

نو مطلب مې دا دے چې نمر په گوته نۀ پټېږي. د شنو چايو خوبۍ مې کۀ راقط کړې نو خلاصې به نۀ شي. مثلاً کۀ په حکيم صاحب دې پس له ډوډۍ ونۀ څښنولې او بيا خاص کر هغه موقعه کښې چې د نمک سليماني بوتلگے ترې نه دکان کښې هېر شوے وي. کۀ جوشاندې ئې درته د شپږو نه درې نۀ کړې نو کم از کم دومره خو به ضرور وکړي چې د جمالکوټې په ځائے به بټلې چاړ درکړي او کۀ د تقرير کولو نه اول دې مقرر صاحب له ورکړې نو د هغۀ ټول تقرير به ستا د حب وطن، قومي محبت، مذهبي غيرت، حميت، ايثار، قربانۍ، همدردۍ وغيره صفاتو نه ډک وي او کۀ واعظ صاحب ته دې په منبر ختو نه لږ شان اگاهو پېش کړې نو په جنت الفردوس کښې به درله داسې مانۍ درکړي چې په هغې کښې به اويا زره کمرې وي، په هره کمره کښې به اويا زره تختونه وي او په هر تخت به درته اويا زره حُورې ناستې وي او کۀ پير مرشد له دې دا شنه پانه تحفه کښې يوړه نو بيا د وظيفې پخولو او د چېلې ايستلو ضرورت نشته. د دې په برکت به دې هم په هغه ورځ داسې مرتبې ته ورسوي چې جنېد صاحب او شمس تبريز صاحب سره به بيا ډغرې وهې او کۀ په شپخانو دې د دې يو چائنک وواهۀ او بيا دې د خدائے يادولو دپاره د هغه محلت جماعت ته ولېږل کوم نه چې ستا طبيعت چپ وي نو کۀ هغوي ترې نه د سبا پورې سترگه پټه کړه نو زۀ درته ملامته او کۀ په ((ښاري ما)) دې د شنو چايو يو انه وال چائنک په اډه کښې وڅښنولو خصوصاً په هغه موقعه کښې چې دې د لارۍ يا ټانگې نه تازه تازه کوز شوے وي نو بس وروره د دې د برکته به په ټول پېښور کښې په خان ملک مشهور شې بيا هر ځائے کښې چې ئې وينې داسې به لگيا وي ((لالا مسيح! اجکل هشنغر د وچ فلان د سخاوتي دا بڑا دهوم هے، قسما قران که اس زمانے دے وچ اس جوان مرد نے حاتم د نام زنده کيتا ئي.))

دا بيله خبره ده کۀ ستا په مېنه غز هم نۀ وي.

نو غرض مې دا دے چې په داسې قسمه کارونو کښې شنې چايې د تورو نه هيڅ کله کمې نۀ دي او خصوصاً په دې باره کښې شنو چايو د تورو چايو نه ځکه نمبر وړے دے چې مذهبي فرقه د دې په قبضه کښې ده او د دوي په دربار کښې د شنې پانې سفارش ډېر قبلېږي او تۀ لږ وار وکړه لږې ورځې پس به شنو چايو ته سرکاري حېثيت هم

حاصل شي. ځکه چې شریعت بل پاس شوے دے.
په دې شان به دې ته د عدلت دروازه پرانستې شي
او هر کله چې دا وشوه نو بیا د تورو چایو کاسه
نسکوره واخله او د هېڼ ماستر صاحب دا پېش
ګوئي به تر یوۀ حده رښتونے شي چې چایو (یعني
تورو چایو) کبر راخستے دے. د دې کاسه
نسکورېدونکې معلومېږي.

(د پښتون ۱۱ ستمبر ۱۹۳۸)